مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۱۰/۰۹

د غنو جال مکتب نیولی دی

په سر کې د مغزو ځای ورته درب نیولی دی
دې خلکو د الله پر ځای بل رب نیولی دی

خپل ځانته پرې منې پرې کوي مورږ نه پرې سرونه
په لاس کې لکه توره یې مذهب نیولی دی

راتیت به کړي نرۍ ته دا زمونږ د تاریخ خلې
ټیټ سر یې چې بادار ته په ادب نیولی دی

اصحاب کهف پناه پکې ویدۀ وو په پیړیو
هم هسې مې د غنو جال مکتب نیولی دی

مومن نـه مې جوړ شوی د رواني پېړۍ آس دی
بـاوره! سـرو کـافرو یــې جلَـب نـیـولـی دی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ